ילד ללא שם

لیکنه: ادریس شاه
انځورګر: ملا کاروان

نوشته: ادریس شاه
رسامی: ملا کاروان

پسر بی نام

מאפגנית תרגם
פרופ' חיים בנישתי

ژباړه او ترتیب: ارجنګ و ترتیب
ادریس پګواک و هژبرشنواری

یکی بود، یکی نبود، در زمانه های بسیار بسیار بسیار قدیم،
پسری زندگی می کرد که نام نداشت.
بسیار عجیب است که کسی نام نداشته باشد و شاید شما
بپرسید: "چرا او نام نداشت؟"
خوب، قصه از این قرار بود:

לפני הרבה, הרבה זמן, בארץ
רחוקה, חי ילד ללא שם.
מוזר מאוד הדבר שלמישהו אין שם
ותוכלו לשאול בצדק "מדוע לא היה לו
שם?"
ובכן, זה היה כך:

هغه ورځ چې دی وزېږېد، مور او پلار یې غوښتل چې په دهٔ باندې نوم کېږدي خو په همدغې ورځ یو وتلی زور او پوه سړی د دوی کور ته راغی.

زاړهٔ سړي دوی ته وویل: "دا یو ډېر مهم هلک دی او زه به هغه ته یو حیرانوونکی سوغات وروښیم. خو لومړی باید زه په هغه باندې یو نوم کېږدم. نو هیله کوم چې تر هغه مهاله تاسي ورته نوم مه ورکوئ." د هلکي مور او پلار وویل: "ښه ده، خو هغه به کله نوم پیدا کړي؟" پوه سړي ځواب ورکړ: "زه اوس نه شم ویلای، خو په یاد ولرئ چې هغه ډېر تکړه هلک دی، پام کوئ چې هغه ته کوم نوم ورنه کړئ."

יום אחד, כאשר ההורים שלו התכוננו לבחור לרך הנולד שם מתאים, בא לביתם אדם חכם מאוד. "הילד הזה הוא חשוב מאוד" אמר "וכשיגדל אתן לו משהו נפלא, אך קודם אתן לו שם מתאים. לכן, בבקשה, אל תתנו לו שם כעת."
"טוב" אמרו ההורים "אבל מתי הוא יקבל שם?"
"כעת אינני יכול לומר זאת" אמר החכם "אבל תזכרו שהוא ילד חשוב, ובינתיים אל תתנו לו שם."

له همدې کبله به د هلک مور او پلار هغه ته د "بې نومي" په نامه غږ کاوهٔ، ځکه چې هغه بل نوم نه درلود.
ולכן ההורים קראו לילד "בינאאם", שבלשון הארץ הזו היה "ללא שם", כי הוא היה ילד בלי שם.

یوه ورځ یې نومی د خپل ملګري د لیدو لپاره، چې د هغوی د کور تر څنګ اوسېدهٔ، ولاړ او له خپل ملګري څخه یې پوښتنه وکړه: "ټول نوم لري او زه هم غواړم یو نوم ولرم، ته کوم نوم نه لرې چې ماته یې راکړې؟"
ملګري یې ورته وویل: "زه یوازې یو نوم لرم چې هغه انور دی. انور زما نوم دی او زه هغه ته اړتیا لرم. که زه دا نوم تاته درکړم نو زه به څه کوم؟ برسېره په دې، که زه خپل نوم تاته درکړم، ته به ماته څه راکړې؟ ته خو هیڅ شی نه لرې."

יום אחד בינאאם פגש את חברו שחי בשכנות. הוא שאל את ידידו "לכל אחד יש שם והייתי רוצה שגם לי יהיה שם. אולי יש לך שם בשבילי?"
והחבר אמר "יש לי רק שם אחד, זה שלי, והוא אנוואר. זה שמי ואני זקוק לו. אם אתן לך אותו, מה אעשה בלי שם? וחוץ מזה מה תוכל לתת לי עבור השם שלי. הרי אין לך דבר."

بې نومي ورته وویل: "زه یو خوب لرم چې نه یې غواړم. زه تاته هغه درکولای شم."
انور پوښتنه وکړه: "خو څنګه کولای شو یو نوم پیدا کړو او وپوهېږو چې د یوهٔ چا خوب څنګه بل ته ورکول کېږي؟" بې نومي ځواب ورکړ: "زه پوهېږم، راځه چې ولاړ شو او له پوه سړي څخه وپوښتو."
ټول پوهېدل چې هغه زور او پوه سړی په هر شي پوهېږي، او له نېکه مرغه هغه د دوی له کورونو څخه ډېر لیرې ژوند نه کاوهٔ.

"יש לי חלום שלא נחוץ לי" אמר בינאאם "ואוכל לתת לך אותו."
"אבל איך אוכל למסור לך את השם שלי" שאל אנוואר "ואיך תעביר לי את החלום שלך?"
"אני יודע" אמר בינאאם "נלך לשאול את האיש החכם." והם הלכו אל החכם שידע הכל וגר לא רחוק משם.

بې نومې او انور د پوه سړي کور ته ورغلل او د کور ور بې وټکاوهٔ.
پوه سړي دوی کله پخوا نه وو لیدلي خو چې وېې لیدل ورته وېې
ویل: "بې نومې او انوره راځئ دننه." هلکانو په حیرانتیا پوښتنه
وکړه: "تاسي څنګه پوهېږئ چې موږ څوک یو؟"
پوه سړي وویل:"زه په ډېرو شیانو پوهېږم او له دې پرته، زه تاسي ته
سترګي په لاره وم."

הם באו לביתו של האיש ודפקו בדלת. כשהאיש ראה אותם אמר "בינאאם ואנוואר, שלום. בואו, כנסו."
"איך ידעית מי אנחנו?" שאלו הילדים.
"אני יודע הרבה" ענה "וחוץ מזה חיכיתי שתבואו."

"שבו כאן, ונראה מה יש לי בקופסאות הקסמים שלי" המשיך האיש. הילדים ישבו על הכריות ליד החכם. הוא לקח קופסה קטנה ואמר "זו קופסת קסמים, והיא מלאת שמות מסוגים שונים. תכף תראו."

زاړهٔ سړي خپلو خبرو ته ادامه ورکړه: "دلته کښېنئ او زه به وګورم چې خپل د جادو په صندوق کې څه لرم." هلکان د زاړهٔ سړي تر څنګ په نیمځي کښېناستل. بوډا سړي یو وړوکی قوطی راواخیست او ویې ویل: "دا یو د جادو قوطی دی او له نومونو څخه ډک دی. تاسي به یې وګورئ."

او کله چې زاړۀ سړي د قوطي سر خلاص کړ، هلکانو په قوطي کې ټول نومونه واوریدل.
رنګ په رنګ او بېلابېل نومونه اوریدل کېدل، نومونه، نومونه، او نومونه. داسي نومونه چې خپل نومونه یې ویل، او داسي نومونه چې د نورو نومونه یې ویل.
داسي نومونه چې د نړۍ د ټولو هیوادونو نومونه یې ویل.

וכשהוא פתח את הקופסה, הילדים יכלו לשמוע את כל השמות שהיו בפנים.
היו שם שמות מכל הסוגים, שמות, שמות ושמות. שמות הקוראים את עצמם, שמות הקוראים שמות אחרים. שמות מכל הארצות שבעולם.

پوه سړي له قوطي څخه یو نوم راواخیست او د یې نومي په لاس یې کېښود. نوم د هلکي له لاس څخه ټوپ کړ او د هغه د مړوند او مټ خوا ته یې منډه کړه او پر اوږه یې ور والوت او بیا یې په غوږ کې ننووت او نېغ یې د هغه دسر منځ ته لار پیدا کړه.

והחכם הוציא שם אחד מהקופסה ונתן אותו לבינאאם. השם קפץ לידו של בינאאם, רץ לאורך הזרוע, עלה על הכתף שלו ודרך האוזן נכנס לתוך ראשו.

ופתאום הילד ידע שיש לו שם.
"הידד! הידד!" הוא קרא "יש לי שם. אני הוסני!"
שמו היה הוסני.
אבל אנוואר אמר אז "אני רוצה את החלום שהוסני הבטיח לי".
"סבלנות ילדי" אמר החכם.

سمدلاسه هلکی پوه شو چې نوم لري.
"واه، واه! واه، واه!" هلکي په جګ غږ ناري وهلې: "ما نوم پیدا کړ. زما نوم حسن دی!"
حسن د هغه نوم وهٔ.
بیا نو انور په لوړ غږ وویل: "زه اوس هغه خوب غواړم چې حسن راسره وعده کړي وه."
پوه سړي وویل: "زویه، صبر وکړه."

او بوډا سړي یو بل قوطی له خپل غټ صندوق څخه راویوست. هغه د قوطي سرپرانیست او ویې ویل: "دا د بدو خوبونو قوطی دی چې هیڅوک یې نه غواړي."

او د حسن خواته یې سر وخوځاوهٔ او ویې ویل: "خپل سر وخوځوه ترڅو بد خوب له هغه څخه ووزي او بیا هغه په دې قوطي کې کېږده."

حسن هماغسي وکړل، او کله چې یې خپل لاس غوړ ته نیږدې کړ او خپل سرېې وخوځاوهٔ، بد خوب یې لاس ته راغی، او کله چې یې خپل لاس قوطي ته نیږدې کړ، خوب د قوطي منځ ته وروالووت.

הוא הוציא קופסה אחרת ופתח את המכסה. "זו קופסת החלומות שאנשים לא רוצים אותם" אמר "תלטף את ראשך, תוציא את החלום ותכניס לקופסה."

והוסני עשה כך וכשליטף את ראשו ראה שהחלום יושב בידו, וכששם את היד ליד הקופסה, החלום קפץ לתוכה.

دا وخت زاړهٔ سړي یو بل قوطی له صندوق څخه راواخیست.
د قوطي سر یې پورته کړ او ویې ویل: "دا قوطی له ښو خوبونو څخه ډک دی."
هلکانو د قوطي په منځ کې ډېر ښه، رنګارنګ او حیرانوونکي خوبونه ولیدل.

ואז החכם לקח קופסה אחרת, פתח אותה ואמר "קופסה זו מלאה בחלומות נהדרים". והילדים יכלו לראות המון הלומות מופלאים בפנים.

ډېر عجيب او حيرانوونکي خوبونه او ښه ښايسته خوبونه!
חלומות מדהימים, משגעים!

زاړهٔ سړي وويل: "زه به تاسې هر يوهٔ ته يو ښايسته خوب درکړم." بيا هغه د هلکانو څخه وغوښتل چې ځانته يو يو خوب خوښ کړي او هغوی هر يوهٔ خپل ځان ته خوبونه خوښ کړل.
کله چې هغوی خپل خوبونه په لاس کې واخيستل، خوبونه د هغوی مړوندونو ته ورپورته شول او د هغوی اوږو ته والوتل، او سيخ د هغوی په غوږونو ننوتل او د هغوی سرونو ته يې لار پيدا کړه. هماغه رنګ لکه د حسن نوم چې لاره پيدا کړي وه.

"אתן לכל אחד מכם חלום אחד" אמר החכם. ונתן להם לבחור חלום. וכך הם עשו. והחלומות קפצו לידיהם, ועלו בזרועותיהם ודרך האוזניים ישר לתוך ראשיהם, כפי שקודם עשה שמו של הוסני.

او له دې وروسته حسن د تل لپاره
یو نوم درلود.
ומאז תמיד ותמיד היה
להוסני שם...

و هردو پسرک، حسن و انور برای همیشه
و همیشه خواب های خوبی داشتند.
ולשני הילדים, אנוואר
והוסני היו תמיד
חלומות נהדרים.